زه د ۱۳۵۸ کالَ د سنبلې په میاشت کې د دوهم ځل لپاره د شینکي په غرونو کې د کفر د بریځو په لاس ونیول شوم زما د گرفتاریدلو په دوهمه ورځ کفارو د شاه جوی ولسوالی د بابا هوتک په لیسه کې یو میټنګ جوړ کړ اوزه ئې هماله بوتلم .

دوی په هماغه میتنگ کی د هورا رمباړی وهلی خو زما ماشوم ورور (ن ـ م) چی هلته ؤ ژړل ئی ـ د نوموړی ژړا وه چه په مائی د کلات په محبس کی د ژړاند ماشوم نظم ولیکلو خو هماغه پاتی شو تیره ورځ می د نوموړی نظم ځینی برخی په یاد راغلی او ژړاند ماشوم می بشپړ کړ .

عصمت قانع

زما کړید لیه ربړیدلیه وروره !
په کړیکوکړیکو ژړیدلیه وروره!
ای داسیر ځلمی خوږ من زړګیه!
د غم په غولی رغړیدلیه وروره!

او ښکی‌دی توی‌کړه څځیدلی ښه دی!
ګوندی ځپی شی طوفانونه جوړ کړی
ستا اسویلی د انتقام لمبی دی
ګوندی ظالم ته دوزخونه جوړ کړی

ګرانه رنځوره ځورید لیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

زه به تورتم کی زولنی شرنګوم
ته په ژړا کی زما پیغام ونغاړه
زه به تیندک خورم د برقو جټکو کی
ته یوه چیغه د قیام و ژاړه ـ!

د غم په غشو لګیدلیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

ستا په غمجن زړه که غمونه جوړ لی
د تاریخ زړه کی هنګامی جوړوی
ته که ژړیږی د اسیر په ویر کی
د ویر ژړا دی زلزلی جوړ وی

نو ژاړه ژاړه غم ځپلیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

زما په پښو کی دا ذرنی زولنی
چی و شرنګیږی د ژوند باب خلاصوی
زما په لاسو کی پولادی اتکړی
تـړلی ور د انـقلاب خلاصـوی
ته خفه نه شی اسکیرلیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

زړګیه ستا دا ترمی ترمی او ښکی
د سرو کفارو سری ځیری لو ځوی
ستا دا کوچنی کوچنی مظلومی سلګی
له غرقه خوبه قافلی ویښوی
په ترمو او ښکو لمبیدلیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

ورور یه دا صحنه به هم تیره شی
چی مونږ ژړیږو دوی رمباړی وهی
سبا به دا لیوان عدم ته ولاړ شی
دا چی نن زمونږ غوښو کی داړی وهی
دا به تیریږی غم ځپلیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

دا د کفارو او باغیانو غوبل
په مرګ محکوم دی هیڅ بقاًنلری
دا د مزدورو چاکرانو نخری
که نن ژوندی دی ژوند سبا نلری
ژر به ختمیږی ځوریدلیه وروره !
زما ماشومه کړیدلیه وروره !

که زه زندان کی شنه لوخړه شومه
ته سره مکروته شه جهان و سوزه
که نن نمرود آتشکدی جوړ وی
ته اسویلی کی نمرودیان و سوزه
ګوره چوپ‌نه شی بوږنیدلیه وروره!
زما ماشومه کړیدلیه وروره !



در اکثر عملیات برضد قوای کفر اشتراک میورزید ، مجاهد موصوف بالاخره بتاریخ ٤-١-١٣٦٠ دریک برخورد مسلحانه علیه قوای کفر در قریه ظهرابی بدرجه شهادت نایل شد .

(انا لله وانا الیه راجعون)



محمد اکرم شهید فرزند محمد امیر در سال ١٣٣٨هـ. ش در قریه بندو علاقه داری چرخ ولایت لوگر تولد گردید ، نامبرده بعد از فراغت از لیسه مولانا یعقوب چرخی شامل دارالمعلمین شد ، بعداً به حیث معلم معرفی گردید. موصوف مرد مجاهد و نیک اخلاق بود که همه مردم منطقه به صداقتش اعتراف میکردند ، این مجاهد سر سپرده بعد از مقابله شدید در مقابل قوای ملحد بتاریخ ٢١ برج اسد ١٣٦٠هـ. ش در پاد خواب لوگر به شهادت رسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

مرحوم غلام محمد شهید فرزند عبدالصمد مسکونه قلعچه سوخته پروان در سال ١٣٤٠ متولد گردید ، نامبرده تحصیلات خود را الی صنف هفتم بسررساند، موصوف باروی کارآمدن رژیم الحادی در افغانستان دست بجها د مسلحانه زد ، در بسیاری عملیات اشتراک مینمود ، تا اینکه موصوف در عملیات صوفیان لغمانی ولایت پروان بعد از به غنیمت گرفتن چند میل اسلحه از دشمن به سن (١٩) سالگی بدرجه شهادت رسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

اصیل گل شهید ولد سید احمد در قریه اسلام پرور بویه زار ناصری ولسوالی شکردره ولایت کابل چشم بجهان کشود و تحصیلات ابتدائی خویش را در لیسه شکردره به پایان رسانید و در سال ١٣٥٧ شامل لیسه حربی پوهنځی شد بعد از فراغت ترک وظیفه نموده با برادران مجاهد خود یکجا شد و به اثر مهارت و شجاعتی که داشت بصفت قوماندان عمومی حوزهٔ بویه زار ناصری تعین گردید تا اینکه در یک عملیات رویا روئی با دشمن در ولسوالی شکردره بعد ازبین بردن دو تانک دشمن بتاریخ ٤-٨-١٣٦٠ بدرجهٔ رفیع شهادت نایل گردید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

صوفی دواران شهید ولد دلاور خان مسکونه قریه سیاه سنگ ولسوالی شکر دره ولایت کابل در یک عملیات تاریخی به

سال ۱۳۶۱ بەدرجه شهادت نایل آمد.

(انا لله و انا الیه راجعون)

صدرالدین شهید فرزند ملا محمد مسکونه قریه دغشک بغلان درسال ۱۳۵۹ دست بجهاد مسلحانه زده در صف مجاهدین جان برکف علیه رژیم منفور کمونستی قرار گرفت بالاخره در یک حملهٔ قوای ملحد روسی و عروسک های آن بالای قرارگاه بعد از مقاومت زیاد بدرجهٔ رفیع شهادت نایل گردید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

دین محمد شهید فرزند نورمحمد مسکونه فراه مجاهد دلیر و با اخلاق بود مردم منطقه از اخلاق

حمیدهٔ موصوف خاطره نیک دارند بالآخره در عملیات تاریخی ۲۸-۳-۱۳۶۱ بدرجهٔ رفیع شهادت نایل گردید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

سیا خان شهید ولد میا گل مسکونه سیاکر ولایت لوگر که بتاریخ ۲۷-۳-۱۳۶۱ به درجه شهادت رسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

حفیظ الله شهید در سال ۱۳۲۵ در قریه ظهرابی و لسوالی مرکز ولایت سمنگان متولد گردید، تحصیلات خویش را الی ختم پوهنځی ادبیات پوهنتون کابل به اتمام رساند، او جوانی بود دارای احساس نیک اسلامی

که همه وقت مسلمانان را بجهاد دعوت مینمود، از سعی و تلاش موصوف بودکه نظم محکمی دربین مسلمانان منطقه بوجود آمد، اوکه وظیفه قوماندانی چریکها سنمگان را نیز عهده دار بود - حکومت ملحد و مزدور که نمی خواهد چنین اشخاصی وجود داشته باشند، با گماشتن نوکران خود توانست رخنه یی ایجاد نماید و این جوان مبارز را بدست کافران داخلی به شهادت برساند.

(انا لله وانا الیه راجعون)

عبدالظاهر ولد تور مسکونه ترین کوټ بتاریخ ۲۰-۳-۱۳۵۹ بدرجهٔ شهادت نایل گردید.

(انا لله وانا الیه راجعون)



احمد جان «رحیمی»

شهید فرزند عبدالرحیم در سال ۱۳۳۹ه.ش در قریه پشتونور مرکز چغچران ولایت غورات در یک فامیل متدین متولد گردید - موصوف تعلیمات ابتدائی اش را در مکتب ابتدائیه سمک دولتیار ادامه‌دادبعداً شامل مدرسه ابو حنیفه کابل گردید ، درین وقت موصوف شامل صف تحریک اسلامی شد و به فعالیت های اسلامی اش آغاز نمود ، بالاخره موصوف در واقعه خونین ۲-۲-۱۳۵۸ چنداول کابل دستگیر و در محبس پلچرخی به شهادت رسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

ملا ایام الدین شهید ولد گلاب الدین خان باشندهٔ قول دولت تکانهٔ علیا مربوط علاقه‌داری جلریز ولایت میدان وردک از شروع سال ۱۳۵۸ به جهاد مسلحانه علیه کفر و کمونیزم آغاز نموده بعد از فداکاری های زیاد درین راه مقدس به تاریخ ۲۶ قوس سال ۱۳۶۰ توسط بمب دشمن به عمر ۳۷ سالگی به درجهٔ رفیع شهادت نایل آمد .

(انا لله وانا الیه راجعون)

برادر شهید عمر ولد رضوان ساکن قریه افغانی قشلاق سرپل در عملیات تاریخی ۶-۵-۱۳۶۰ بدرجه شهادت نایل آمد .

(انا لله وانا الیه راجعون)

محمد مختار شهید ولد محمدطاهر مسکونه پراچی ولسوالی پغمان ولایت کابل در یک نبرد خونین در ۱۶ ماه مبارک رمضان به درجهٔ رفیع شهادت نایل آمد .

(انا لله وانا الیه راجعون)

۱

محمد الله شهید ولد نور علی ساکن قریه افغانی قشلاق سرپل بتاریخ ۶-۵-۱۳۶۰ بدرجهٔ شهادت نایل آمد .

(انا لله وانا الیه راجعون)



الله نور شهید فرزند محمد یار مسکونهٔ قریهٔ خوش تپه

ولسوالی چهاردره ولایت کندز در عملیات تاریخی ۱۸-۶-۱۳۶۱ بدرجه شهادت نایل آمد.

(انا لله و انا الیه راجعون)



برادر معلم عبدالقسیم شهید ولد میر فراموز مسکونه پایان قریه فندقستان غوربند که بتاریخ ۱۴-۵-۵۹ ذریعه مرمی ها وان دشمن درسنگر با برادرش عبدالصبور یکجا بدرجه شهادت نایل گردید .

(انا لله وانا الیه راجعون)



غلام دستگیر شهید فرزند غلام جیلانی باشنده ولسوالی شکردره ولایت کابل بعد از فراغت پوهنځی زراعت مدت دو سال در ولایت بادغیس بحیث آمر زراعت ایفای وظیفه نمود و بعداً مدت چهار سال در ولایت نیمروز بحیث مدیر پروژه کار میکرد و بعد از روی کار آمدن رژیم منفور کمونستی دست از وظیفه برداشته به جهاد مسلحانه پرداخت تا اینکه بتاریخ- ۱-۵-۱۳۶۱ به عمر ۳۴ سالگی در یک عملیات خونین بین حق و باطل جام شهادت نوشید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

خواجه نظر شهید ولد حاجی با به مجاهد دلیر ولایت تخار قریه لاله میدان بوده که از طرف ملحدین دستگیر و بعداً به شهادت رسانیده شد.

(انا لله و انا الیه راجعون)

غلام ربانی شهید فرزند بابل‌شاه ساکن قلعه پراچی ولسوالی پغمان ولایت کابل که در یک خانواده متدین چشم بجهان کشود مذکور در سال ۱۳۵۷ بجهاد فی سبیل الله آغاز و در سال ۱۳۵۸ به اثر تقاضای برادران مجاهد خود

به سرگروهی چند نفر از برادران همسنگرش تعین گردید غلام ربانی مجاهدی بود که همیشه قوای ملحد روسی و دولتی را به شکست مواجه ساخته بود که بالاخره در یک نبرد خونین بین حق و باطل در ماه سنبله سال ۱۳۶۱ بدرجه شهادت نایل آمد.

(انا لله و انا الیه راجعون)

برادر هدفمند عبدالحکیم شهید ولد عبدالمجید مسکونه قریهٔ جزگری مربوط ناحیهٔ(٤)ولسوالی پشتو نکوت ولایت فاریاب در عملیات رویا روئی دور وزه در اطراف شهر در ماه مبارک رمضان بتاریخ ۲۳-٤-۱۳۶۱ بدرجه رفیع شهادت نایل گردید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د ایمان نقش په روزنه او مبارزه کی

م . ن . مزمل

ایمان د اسلام له نظره :

ایمان چه د قرآن او اسلام له نظره د ټولو اجتماعی او وجدانی ارزښتونو او معیارونو د جدول په سرکی ځای لری او اسلامی انگیر نه او تصور د هغه د اهمیت په هکله مسلسل او پرله پسی تائیدونه او تاکیدونه کړی اود انسانیت توجه ئی د هغه په ورانډی په ډیره کلکه او مسلسله توگه را اړولی . د اپخپله کولای شی په کافی توگه د ایمان اهمیت وښیی او یا د هغه د اهمیت په هکله خلک متوجه کړی .

د ایمان اونه ایمان خبره په حقیقت کښی هغو ذهنی اوعینی حقائقو پوری تړلو پوښتنو ته ځواب دی چه د بشری ژوند سره برابر عمر لری اودهر انسان د افکارو په افق کښی ئی د خپل اهمیت له کبله راز راز سوابی پورته کړی ،

زه څوک یم ؟

د کومه راغلم ؟

څه باید وکړم ؟

کومی خواته ځم ؟

د دغو محدودو پوښتنو پوره او صحیح ځواب پیدا کولو ته چه انسانی سلیم وجدان او ضمیر ئی ومنی اوبیا د همدی سی اوقانع کونکو ځوابونو په سیوری کی دژوند دعیارولو استعداد او امادگی ته ایمان و ابی همداسی د همدی محدودو پوښتنو صحیح ځواب او د هغه په رڼاکښی دژوند سره صحیح فعل او انفعال انسان ته ددی واک ورکوی چه ځان او ژوند ټول په د اسی مسیر کښی وغور ځوی چه دی د هغه په هکله بصیرت او معرفت لری او د ایمان په رڼاکی دیوی دقیقی محاسبی په مخکښی نیؤلو هغه خپل ټول تحرکات، کړه وړه احساسات او انگیرنی دیو مطمئن او مثبت جهت په خوا په کاراچوی او په دی جهت کی هغه د په کارورو کوششونو په هکله د اسی داډه وی چی نوموړی داډ پخپله د داسی انسان تحرک او فعالیت

دتل لپاره ژوندی ، دوامدار او روان وساتی -

او د پورتنیوپو ښتنو په هکله د نه ځواب او یاخطا ځواب خبره ده چه زبات خلک په ژوند کښی د تیاره تصور له کبله دهر څه سره ټکری خوری او د دغسی بی‌ایمانی په نتیجه کښی نه پوهیږی چه څه کوی ؟ کومی خوانه راغلی وو ؟ او بیا به کومی خواته ځی ؟ ؟ ؟ ډیر خلک د همدغسی بی ځوابی او غلط ځو ابی په نتیجه کښی ژوند او هستی ته په شک او ویره گوری ، هرڅه چه کوی اوهره لارچی انتخابوی پکی د شک او تردد نه نشی خلاصیدی او په هغه کی اطمینان نشی پیدا کولای . د همدغو په ظاهر ساده پوښتنو ځواب او یا نه ځواب د پیدا کولو اصل دی چی د انسان روانی او اجتماعی تگلوری ټاکی .

او هغه ته دځان ، ژوند، کائنا تو او ټولی هستی په هکله ځانگړی بصیرت، خاص مزاج او طبیعت ، جلا جلا تصور او انگیرنه او په عملی ډگر کښی ځانگړی مواقف

ور په برخه کوي ـ

دژوند، کائناتو ، ټولي هستي او په هغه کښې د نظم . انضباط ، مطالعه او تحقیق که چاته داباور او یقین ورکړي چه په ژوند او کائناتو کښې هیڅ شي بي حکمة او بي هدفه نشته ، هرڅه دلته رسالت او هدف لري، ټول شیان یو جهت تعقیبوي او هغه هم په منظم ډول، دکائناتو او په هغو کښې دروانو جریاناتو پلا نیزه او تعقیب د انساني پدیدو منظم تسلسل د حوادثو په هدف ولاړ بدلون او داسي نورچه دا کارپه واضح ډول د طبیعت او کائناتو له طبعي استعداد نه و تلی کار دی او بالاخره د غسي یو انسان باور کړي چه کائنات، انسان اونړي حتماً د چادتصمیم ، پلانیزي او بالاخره دیو مقتدر بابصیر ته قدرت په نتیجه کښې منځته راغلي ده او د هغه ذات تر لارښودني او ارادي لاندي خپل تاکلي لوري تعقیبوي ، دغه راز مطالعه او څیړنه حتماً انسان ته ددي بصیرت هم ور بښي چه دتیرو پوښتنو په ځواب کښې دا ووا یي او باور پري وکړي چه :

۱ـ د هستي ، کائناتو ، کهکشانونو او په طبیعت کي دننه دننه دټولو بدلونونو ، پیښو او جریانونو شاته ځوک شته چي دا هستي او کائنات او ټول طبعي منظم فعل او انفعال د هغه په وړاندي د تعظیم، منني او اطاعت سرتیټوي ـ

ځوک شته چه دا ټول شیان د هغه له ارادي سره سم منځ ته راغلي او د هغه له خوا د ټاکلي پرو گرام سره به دا ټول خپله ټاکلي لارهم تعقیبوي .

له همدي ځایه هغه باور چه ددي هم ددي مقتدر او مدبر ذات دبي شماره مصنوعاتو په کتار کښې موقعیت لري او پوهیږي چه دده مسئولیت او دنده په ژوند کښې همداده چه د فطرت ټاکلي لار د کائناتو له خداي سره د وفا داري، په ژوند کښې د تحرک او مقاومت د ټاکل شوي ایماني تصور په رڼا کي لاري تعقیب کړي او د همدي ایماني انگیرنې په رڼا انسان په دي قانع کوي چه هغه به دمرگ داعي ته د لبیک ویلو وروسته یوه ورځ د همدي مقتدر او عادل خداي په وړاندي ددي ورسپارل شوي مسئولیت او ورکړل شویو استعدادونو ځواب واېي، په دي ډول د اسلام ایماني تصور انسان دیوي داسي کتني او څیړنې په لړ کښې د ایمان خاوند گرځوي او د تیرو طرحه کیدونکو پوښتنو په ځواب کښې بریالي کیږي ، او د همدي ځوابي تصور په نتیجه کښې پوهیږي چه څه و کړي ، څه و نکړي ؟ پوهیږي چه د هغه دنده او وظیفه دنړی اعمار چه هغه پخپله د همدي لوی او مقتدر خدای عبادت دی، د هغه ټول تحرک او فعالیت به هم د همدي عبادت او اعمار په چوکاټ کښې په آماتور ډول تابع کیږي، هغه که څه کوي یا څه نه کوي همدا دوه جهته به په کښې اساسي او عمده رول لري .

برعکس هغه ځوک چي د دغسي یو ایماني تصور او صادقانه انگیرنی څښتن نه وي . هغه به هرڅه د خپل مصلحت او منفعت له زاويي گوري او د هغه د تحرک او فعالیت لوري به د هغه مصلحت او منفعت ټاکي او هغه د هر تحرک او فعالیت نه مخکي د هغه د مصلحت خبره مطرح وي هغه له د نړي د اعمار خیال ساتي اونه د کائناتو او د هستي د مالک د عبادت او بندگي په پام کي وي.

پرځاي ده چه دلته په وگړو کښې له رواني پلوه د ایمان مثبتي اغیزي وڅیړو :

۱ـ یو مؤمن او پر خداي معتقد انسان بي هدفه او بي تفاوته نه وي په دنیا کښې داسي کار او داسي یو څه نه پیدا کیږي چه د هغه په هکله دي یو مؤمن

او په خدای معتقد انسان بې تفاوته وي .

هغه که هر څه وايي او هر څه کوي د يو ستر هدف د پاره به وي چه د ده د ايماني انګيرنې او شان سره ورږي .

مؤمن وګړی هيڅکله په بې فائدې او خوشې کارونو ځان نه بوختوي ځکه هغه هدف او مسئوليت لري او پوهيږي چه يوه ورځ دا هم پوښتل کيږي .

هغه پوهيږي چه د ده د ژوند او خلقت خليفه دا نه ده چه بې هدفه ژوند وکړي او دجرياناتو په هکله بې تفاوته پاتې شي.

مؤمن وګړی به هرو مرو هڅه کوي چه په خپله هم مثبت او مفيد کار وکړي او نور هم دې لارې ته وهڅوي، په هغه صورت کښې چه څوک بې هدفه او بې تفاوتي ويني سخت خواشيني کيږي ، د هغه د ترک او هدفمندۍ په جهت کښې به خپل ټول استعدادونه په کار اچوي ، داسې نه چه بې تفاوته او بې‌هدفه خلک دې په ځان پسې کړي او خپل مسئوليت هير کړي .

۲- له هغه چا سره چه پوهيږي د خلقت فلسفه او حکمت بې څه دی کوم ورکار او د نده ښائي ؟ او بالآخره پوهيږي چه دی يوه ورځ پوښتل کيږي ، هغه به هيڅکله بې تحرکه ، بې فعاليته د خلکو داوړو بار نشي ، هغه به کوښښ کوي چه له نورو سره د کومک او مرستې د صادقانه احساس په لړکې د نورو پيټې واخلي د نورو د ژوند د سمون په لار کښې ځان ستړی کړي .

دا خبره د نه منلو ده چه سړی دې مؤمن هم وي ، او لټ تنبل او د ذهني استعداد له مخې دې شل شوټ هم . دا ايماني تقاضا نه ده ، ايمان چه د انسان په زړه کښې اسره او اميدونه ډکوي دا کار به هغه څوک کوي چه له ژونده ستړی ، مأيوس او د ژوند د اهدافو د حقائقو په هکله سخت ناپوه او سخت بې عقيدې وي .

۳- يوجهتي: دغه راز بايدو وايو چه کوم زړه‌کښې چه د ايمان ډيوه بله وي هلته د خدای له ويرې اومينې پرته بله مينه نشي ځائيد لای ، او نه په داسې زړه کښې لوړې غلطه ونکې ويره او ترخه ميشتيدای شي چه د همدې نقطې نــه د يوې متحدې اسلامي ټولنې کارهم پيل کيږي په دې اساس په خدای مؤمن او معتقد وګړی سخت زړه ور ، داده او آرام وي ، د حوادثو او پيښو سيلي له هغه نه د هرې کوڅې بنکه نشي جوړولی هغه ثابت قدمه وي له حوادثو او پيښو سره د لاس او ګريوان کيدو ويره نلري هغه پوهيږي چه هغه کار د مالک او مقتدر خدای له ارادې پرته سر ته نشي رسيد لای.

پر خدای باوري انسان په حوادثو کړکيچونو ، کښې هم ځان نه بايلي ، د ژوند د ناخوالو د څپو په وړاندې مقاومت ښيي، پوهيږي چه لوی خدای د ټولو کارونو او ټولو حوادثو ترشا هميش د انسان مالک او حافظ خدای دی.

په همدې ټوګه په مؤمن انسان کښې تذبذب ، ويره ، وار خطائي او ځان بايلنه ، ترا اوبې ځايه تشويش نه ليدل کيږي.

هغه کولی شي د ځانکدن په سختو خوار يو کښې په مسکا اوسي.

له بلې خوا مؤمن و ګړی هيڅ کله نورهم په ويره ، جبن، تذبذب او تردد کښې نه اچوي ځکه دا خصوصيتونه پــه هغه چا کښې زيات وي چه د حوادثو په وړاندې بې وجدان قانع نه وي ، له يوه خدای نه دويرې پرځای له هر چا او هر څه نه ويريږي ، پر يو خدای د نه اعتماد او باور پرځای

په هر چا اعتماد او باور نشي کولای.

ایثار او لوروته :

همدا د ایمان او د زړه پر تل کښي دا هدافو له معنوی ارزښتونو سره عشق او علاقه ده چــه یو مؤمن وګړی دی ته چمتو کوی چه د خپل مصلحت ، خپلی برخی او بالاخره د ژوند او هوسائی نه د بل د مصلحت لپاره لاس واخلی.

او په دی برخه کښي خپل عوض او بدل یواځي له لوی او مقتدر خدای څخه غواړی ، او با ورهم لری چه د ده ژونـد او په ده پوری تړول مربوط کارونه او چاری د خدای په ارادو پوری تړلی کاردی.

هغه څوک چه د ژوند او په ژوند او کائناتو کښي د حوادثو د روان جریان په هکله ایمانی تصور او انګیرنه و نلری د هغو لپاره د ټولنی او یا د هر اجتماعی مصلحت په خاطر د خپل مصلحت او ګټونه تیریدل او د ایثار لاره غوره کول ګران کار دی.

هغه ته له خپل مصلحت او ژوند نه د تیریدلو خبر اصلاً د خپل موجودیت د ضیاع او له منځه تلو معنی لری. له همدی اسله په بی ایمانه او بی هدفـه و ګروکی د لوروتی او سربښندنی ماده ډیره کمه لیدله کیږی کوم چه د هغه رڼاکی د ژوند د زیاتی نابرابری دودی مخنیوی کیږی څکه په ټولنیز ژوند کښي ځینی داسی شکیدلی او ځیرلی ځایونه وی چه یوازی او یوازی پـه ایثـار او پیرزوینی سره پیوندیږی.

په کومه ټولنه کښي چــه د ایثار او فداکاری روحیه نه وی حتی په هغه ټولنه کښي قضایا ، وګړی ، او اجتماعی مصالح ضائع کیږی. او په هغه ټولنه کی کله نه کله داسی ټولنیز فراغ لیدل کیږی چه د ټولنی له منځه تګ او خرابتیاتری په ډاګه ښکاری.

له همدی اسله د اسلامی ټولنی او تحریک په تشکیل کښي اهل ته د کارونو د سپارلو په برخه کښي له خورا جدیت او توجه نه وروسته په اجتماعی او تحریکی موقف او موقعیت کښي سیالی او رقابت پای ته رسی، هلته هرومرو با کفایته او با استعداده عناصر که څه هم اجتماعی او تحریکی موقعیت یی کمزوری وی د خپل تحریک او جامعی د مصلحت لپاره خپل علمی او فکری استعداد په کار اچوی که څه هم د ده دښه استعداد او پاخه کار او فعالیت نتائج د بل په نامه هم تمام شی ؛ څکه هغه ته دا مهمه نه ده چه ښه کار او ښه پروګرام د ده په نامه تمام شی ، هغه ته اصلاً کار او د پروګرام صحیح تعقیبیدل اهمیت لری او بس. هغه څه چه دی لارکښي پرځان ګالی. هغه ټول د همدی ایثار د روحیی له بخي د یاده باسي.

د همدی ځایه ده چه با ایمانه انسان او د پخي عقیدی څښتن مؤمن هیڅکله خپل فعالیت په لوی لاس مسئول او قوماندان باندی نه پاسلی ، او نه په دی برخه کښي هغه د رقابت او سیالی او بالاخره شخصیت او مصلحت نړوونکی مسابقی ته را کاږی.

دلته هر مسئول او هر مشرتر لاس دلاندی خلکو کار او فعالیت ته په درنه‌ستر ګه ګوری او هرلاس لاندی وګړی د خپل علمی او عملی استعداد د تفوق د امتیاز په لاس ته راوستو کښي نظم او دسپلین له ګډوډوی. بلکه هغه پوهیږی چه دی که د هغه بل انسان په نسبت د استعداد او مهارت له مخی زیات دی ، خو له خپل استعداد او مهارت نه د ټولنی او تحریک په ګټه کار اخلی او همدانی یواځنی هدف وی، د دی نه ها خوا د خپل کار او فعالیت د نیکنامی د انحصار په برخه کښي

(بقیه در صفحه ۷۵)

(محمد نعیم تائب)

عاقبت پیروزی نصیب عقیدتمندان است

در طول جهاد عقیدوی مسلمانان مجاهد راه راستین اسلام در افغانستان که یگانه به سلاح ایمان و عقیدهٔ قلبی مجهز هستند در هر معرکه با دشمنان ایدئولوژی خود پیروز گردیده و میگردند. تمام مردم حق بین جهان می بینند که مجاهدین راه حق و عدالت با داشتن کدام وسائل در مقابل چنین دشمن مجهز تری چگونه شجاعانه و دلیرانه پیکار دارند.

معلوم است که توام با وقوع کودتای ننگین و شرم آور نوکران حلقه بگوش کرملین که بتاریخ ۷ ثور ۱۳۵۷ صورت گرفت عده یی از مسلمانان آگاه برخلاف آنها اعلان جهاد مسلحانه کرده و نیزدر عین حال مردم مسلمان نا آگاه، بی خبر و خواب بردهٔ دیگر را که هنوز بجهاد مسلحانه اقدام نکرده بودند تنبیه نموده وعملیات خود را علیه حکومت مرتد و غلام روسیه (تره‌کی)، شروع کردند. در مقابل خونخوارا نیکه در قصر وحشت تربیه شده بودند دست به کشتار ها و گرفتاری های باصطلاح مجر مین (مسلمانان) زدند تا اگر بتوانند ملت مؤمن و فرزندان دلیر و صدیق اسلام را از راه روشن و منتخبهٔ خود باز دارند و در قلوب ایشان ترس و بیم ایجاد نمایند در تغافل از اینکه سیل خروشان عاشقان آبرو، عزت، وقار، آزادی و حریت که این همه از ملزومات اسلام است، ازین اعمال وحشیانه و غیر انسانی آنان خروشان تر خواهد گردید.

جهاد متداوم و خستگی ناپذیر مجاهدین باعث میگردد تا در بین گلهٔ خلق اختلاف شدیدی بوجود بیا ورد و این اختلاف منجر به قتل استاد درسهای بی راهی ایشان (تره کی) از طرف یکی از شاگردان او (امین) میگردد بدین منوال امین خود را بقدرت میرساند و به مسند اقتدار تکیه میزند.

و اینکه اختلاف هر دو غلامان بیگانه طبق خواستهٔ با داران ایشان بکدام منظور و از چه نقطه آغاز یافت و یا به چه نوع استاد باصطلاح عالیقدر خود را بجهنم فرستاد داستان طولانی و جالب دیگری است که حالا نمیتوان آنرا در رشته تحریر در آورد والا از موضوع دور خواهم رفت.

شاگرد وفادار او(حفیظ اللهامین) نیز بفکر آنکه یگانه راه خاموشی راه روان راه حق و آزادی ومنقاد نمودن ایشان برای خود و با دارانش این خواهد بود که بوسیلهٔ شدت درجبر، تشدد، کشتار و خونریزی سرکوب‌گردند و خواهد توانست ازین راه آرزوی دیرین خود و بادارالش را برآورده بتواند - والا اگر از راه آرامی و نرمش با ایشان رفتار شود، نا آگاهانه قصر نو بنیاد کمونیزم را در افغانستان منهدم و برای ابد نابود خواهند کرد.

همین علت بود که فرعونیت قرنی خود را به جهالیان ارائه کرده و مسلمانان مظلوم و ستمدیده ولی غیور

افغانستان را با بکار بردن تمام وسائل دست داشته خود مورد حملات نا جوانمردانه قرار دادند . بی خبر ازینکه در مقابل همچو مسلمانان که بلحاظ مادی ناتوان و بی پشتوانه بودند هزاران فرعونان ، نمرودان ، ابو جهلان و هم صفتان آنان باشکست فضیحی مواجه شده اند که هنوز هم تاریخ مظلومین جهان بآن افتخار دارد و این مفتخرات را برای جوامع مظلوم بشری آینده بطور نمونه تقدیم میکند تا بآنها بیا موزاند که بسا مظلومین و ستمدیدگان درمبارزه با مستکبران پیروز گردیده اند .

کرملین نشینان باصطلاح صلح دوست و مدعیین حقوق بشر دانستند که این گدی کاغذی ما (امین) نیز نتوانست در مقابل مسلمانان شجیع افغانی استادگی کند لازم دانستند که بی شرمانه مداخلهٔ نظامی مستقیم نمایند و چنین کردند .

تجاوزگران سرخ مسکو که نشان سرخ آنان علامه درندگی بوده بی شرمانه بتاریخ شش جدی سال ۱۳۵۸ به حریم پاک افغانستان عزیز تجاوز کردند ـ با آنکه جهان معاصر روسیهٔ متجاوز را از قدرتمند ترین کشور های جهان میشناسند و با وسائل مدرن مجهز است . از ابتدای مداخله تا حال نتوانست که در جبههٔ از صد ها جبههٔ نبرد مجاهدین را شکست داده باشد با آنکه وقتاً فوقتاً عساکر جنگ زدهٔ خود را عوض و عساکر تازه نفس را می فرستد و وسائل مدرن روز از قبیل طیارات جیت ، هیلی کوپتر ها ، تانک ، ماشین محاربوی و بمب های ناپالم و انواع دیگر اسلحة را در طول مداخله بکار میبرد ، و در مقابل مجاهدین با دست تهی مقاومت‌دارند و خواهند کرد .

یقین باید کرد مسلمانانیکه در داخل افغانستان عزیز با کفر و الحاد پیکار و معرکه دارند تا آخرین نفس خسته نخواهند شد و نه میدان نبرد را برای دشمن تخلیه خواهند نمود آنها فرزندان عقیدوی خالد بن ولید (رض) و همچو اشخاص هستند که به یکی از ملحدین دعوت اسلام میداد و در دعوت نامهٔ خود این کلمات را مندرج نمود (به اسلام تسلیم شو ورنه قومی را بخاطر مقابله با خود دارم که بخداولد قسم مثلیکه شما به حیات هوس دارید اینان به مرگ در راه اسلام چنین هوس دارند) این گفتهٔ حضرت خالد بن ولید (رض) را مسلمانان مبارز در اعماق فکر و قلب خود جای داده اند و برای همیشه سر مشق مبارزات خود گردانیده اند و استمداد قوت و نیرو را از خداوندیکه برای حق و حقیقت همه وقت نصرت داده است میجویند .

مبارزین راه خدا برای اشباع شهوات عارضی ، منفعت شخصی ، عصبیت جاهلی ، و بالاخره بخاطر تجاوز بیجا علیه افراد بشری نه می رزمند بلکه برای اعلای کلمهٔ او تعالی میجنگند و بخاطر حقی که نظام کائنات بآن وابستگی دارد می کشند و کشته می شوند همین علت است که نصرت خداوندی بحال ایشان شامل میگردد و جانب مقابل ایشان مضمحل میشود چنانچه خداوند میفرماید (بل نقذف بالحق علی الباطل فید مغه فاذا هوزاهق) بلکه حق را علیه باطل می افگنیم پس سرش می شکند و ناگهان باطل نابود میگردد و نیز میفرماید (و قل جأ الحق وزهق الباطل ان الباطل کان زهوقا) دین حق آمد و باطل نابود گردید هر آئینه باطل نابود شونده است .

این یک واقعیت است که

پیش مرگان و مجاهدین جان برکف جهاد راه خدا(ج) ، در [redacted] انتظار ورود تانکهای دشمن به منطقه شان بسر برده ولحظه شماری میکنند .

مجاهدین راه توحید ، یکتا پرستی و حقانیت در طول تاریخ توانسته اند که نه تنها خودرا از بند غلامی ستمگران آزاد کنند بلکه سائر اسیران و غلامان را نیز ازادی و حریت بخشیده اند و خواهند بخشید .

بهتر است مثال بزنیم که در جنگ قادسیه سعدبن وقاص(رض) ربعی بن عامر(رض) را به سلحدی چون رستم امیر لشکر فارس که تبعه ، لشکر و ثروت زیاد از قبیل طلا و نقره نیز داشت فرستاد ابن عامر جراتمندانه بدون هیچ گونه هراس و تشویش در حالیکه نه کدام لشکری با خود داشت و نه ثروت بالباس ژنده و گرد آلود و قیافهٔ مهیج به نشیمن رستم داخل گردید .

رستم دکتاتور و جبار وقت از او چنین پرسش نمود : تو کی هستی . . . و شما چه کسانی هستید حضرت ربعی بن عامر(رض) برایش چنین پاسخ میدهد (نحن قوم ابتعثنا الله لنخرج من شا من عبادة العباد الی عبادة الله وحده، ومن ضیق الدنیا الی سعتها ، ومن جور الادیان الی عدل الاسلام) یعنی ما قوم مبعوث شده از جانب خداوند هستم تا اگر بخواهند مردم را از غلامی و بندگی مردم ازاد کرده و بسوی یگانه راهی جانب خداوند یکتا سوق دهیم ، و از دنیای ضیق به دنیای وسیع بیاوریم و از جور و ظلم ادیان به عدل و انصاف اسلام بکشانیم .

مجاهدین مؤمن افغانستان بخون خفته از حیث ایمان و عقیدهٔ راسخ به خداوند در دشت ها و کوه های سنگلاخ بدون از هیچ گونه هراس و احساس خستگی با دشمنان دین و عقیدهٔ خود میجنگند زیرا که آنها به عروهٔ محکم الهی مخلصانه چنگ زده اند و در سورد خداوند به آنان چنین وانمود کرده که

(فمن یکفر بالطاغوت ویؤمن بالله فقد استمسک بالعروة الوثقی لا انفصام لها والله سمیع علیم) پس هر که منکر طاغوت وایمان به خداوند آورد پس هر آئنه بدست آویزی بسیار محکم که هیچ گسستن ندارد چنگ زده و خداوند شنوا و دانا است .

پیروان راه جهاد عقیده دارند که مخلوق عبثی نیستند ، باید خلافت خداوندی را در کرهٔ زمین قائم نگهدارند ، اگر پیروان باطل بر آن تجاوز کنند بمقابله بپردازند از ینکه میفرماید (فان الله هو سولاه و جبریل و صالح المؤمنین والملئکة بعد ذلک ظهیر) پس هر آئینه خداوند کار ساز اوست و جبریل و مردم نیکو از مسلمانان و نیز فرشتگان بعد از آنان نصرت دهنده اند . پس چگونه ضعف عمل خواهند داشت و چرا گردن حریت خود را برای انسان خم خواهند کرد در

حالیکه خداوند و ملئکهٔ او با آنها است .

همین عقیده بخداوند بود که عدهٔ محدودی از جوانان مسلمان که قرآن کریم از آنها یاد آوری کرده و نام اصحاب کهف به ایشان داده است در مبارزهٔ خود علیه کفر و الحاد پیروز گردیدند ، قرآن کتاب اسمانی خداوند داستان آنها را چنین حکایت میکند (نحن نقص علیک نبأهم بالحق انهم فتیة امنوا بر بهم وزدناهم هدیط وربطنا علی قلوبهم از قاموا فقالوا ربنا رب السموت والارض لن ندعوا من دونه الها لقد قلنا اذا شططا ط هؤلاء قومنا اتخذوا من دونه الهقط لولایأتون علیهم بسلطان بین فمن اظلم من افتری علی الله کذباط «کهف» ما میخوانیم بر تو خبر ایشانرا (اصحاب کهف) براستی هر آئینه ایشان چند جوانی بودند که ایمان آوردند به پروردگار خود و بیفزودیم ایشانرا هدایت و بستیم بر دلهای ایشان (استوار ساختم) چون ایستادند پس گفتند پروردگار ما همین پروردگار آسمانها و زمین است هر گز پرستش نمیکنیم بجزوی معبودی را هر آئینه گفته باشیم آنگاه سخن دور از عقل اینها قوم ما هستند که گرفتند به جز خدا معبودان چرا نمی آرند بر ثبوت آن معبودان دلیلی واضح پس کیست ستمگار تر از کسیکه بربست بر خدا دروغ را ؟ مجاهدین مؤمن افغانستان نیز همین قدم مفتخر تاریخی ایشانرا تعقیب مینماید این سبب است که جرأتمندانه میجنگند، واقعا پیروزی در طول تاریخ نصیب عقیدتمندان بوده و میباشد .

زمونږ د سپیڅلی ...

په وخت کښی مجاهدینو ته اسلامی درس ورکړی .

ج ـ لکه څنګه چی په طبعی ډول هر مجاهد له ځان سره یو د روند توپک ، او زښت زیات کارتوس ګرځوی ، باید د یو ، یو قرآن کریم په ګرځولو هم مکلف شی ، چی د فراغت په وخت کښی ی تلاوت او د عالم له ترجمی او تفسیر څخه تری ګټه واخلی .

د ـ هغه مدرسی او د زده کړی نظام چی اوس د مهاجرینو په مینځ کښی دوام لری د پخوانی طرز او روش سره کوم خاص توپیر نلری ، ځکه اوس هم موږ ګورو چی د افغانستان د مجاهدینو بچیان ، د پاکستان په کلیو او مدرسو کښی د چړ په زوږ سیستم درس وائی پدی برخه کی باید دتعلیم او تربیی مشران پا ملرنه وکړی چی د مهاجرینو بچیان د مهاجرینو په خاصو مدرسو کښی په خورا آزادی او په پوره زړه سره تعلیم وکړی که څه هم د مهاجرینو د بچیانو د زده کړی لپاره ځینی مدرسی او ښوونځی جوړ شوی دی ، چی دا کار د قدر وړدی ، خو همدارنګه باید په آزادومنطقو کښی هم مدرسی او ښوونځی جوړ کړی .

که خدای کول هغه بچیان چی د انقلاب په جریان کښی او سیږی ، په انقلابی روحیه وروزل شی .

ترڅو د انقلاب دا روزل شوی ځوانان د راتلونکی انقلابی تولنی په جوړولو کښی انقلابی ونډه واخلی .

او د دی پاک اوسپیڅلی انقلاب د یو ملیون شهیدانو پاکی وینی د دی خاوری په دښتو او رغونو کښی د اسلامی نظام شین چمن را تازه کړی .

د ټریوال اسلامی انقلاب د بری په هیله وما ذلک علی الله بعزیز .

چه میگویند و چه میکنند؟

از اهل بصیرت و دانش پوشیده نیست که سردمداران کمونیزم برای بسط و توسعهٔ بر نامه های کمونستی به اقسام وسایل و ذرایع متوسل میگردند : پخش تیوری و فلسفه «مارکسیزم لینینزم» نظر به حالات جوامع و ملت‌ها صورت میگیرد و تمام وسایل ارتباط جمعی (Mass Media) خود را وقف اینکار مینمایند و چنان تبلیغات وسیعی را براه می اندازند که انسان خیال میکند راه هزار ساله را یک شبه می پیمایند و کلیه پیشرفت های اقتصادی اعم از صنایع ، کشاورزی ، راه و طرابری ، پل سازی و میدان سازی ، تعلیم و تربیه و تکمیل پروژه های شهری و امثالهم را از خیر و برکت آن ها میدانند در حالیکه در تمام کشور هائیکه کودتا های کمونستی صورت گرفته است از آغاز تا انجام، قضیه بر عکس بوده است. یعنی که آن ملت ها بعد از کودتا های کمونستی خسارات ازقبیل ویرانیها

س . ه . هدایت

نشنار های دسته جمعی، مهاجرت های اجباری ، پایین آمدن سطح زندگی را متحمل و از همه مهمتر از بین رفتن تربیهٔ افراد خانواده ها را بار آورده است که جبران آن خیلی مشکل به نظر می رسد.

درین مقاله چند مثال مقایسوی و تبلیغات بلند گو های ماسکو - کابل به‌مطالعهٔ خوانندگان محترم عرض میشود : مثلاً اریتریا که درجواز حبشه واقع است در وقت زما مداری امپراطوری «هیلا سلاتی» علیه حکومت مرکزی طغیان نمود ، روس ها که طبق عادات شان همیشه بسر وقت مردمانی می رسند که در آن جنبش های ازادیبخش بمیان می اید و علی الفور اریتریارا تایید و آنرا جنبش آزادیبخش ملی نام گزاری و جهت تقویه آن اقسام اسناد و مدارک، کتب، نشرات و وسایل تبلیغاتی کمونستی را به انجا گسیل نمودند و آما وقتی در ایتوپیا (حبشه) به نفع کمونیزم علیه هیلا سلاتی کودتای کمونستی انجام شد این جنبش را بدون اینکه در محل ، بر نامه کار مرام آن تغیری رخ دهد ، تجزیه طلبان اریتیریا نامیدند و یا روس‌ها دائماً از حکومات نظامی اینجا و آنجا سخن بمیان آورده و از عامل عمدهٔ پسمانی و خفقان ملت ها میدانند چنانچه در مورد - بلندگو های رادیو و تلویزیون کابل بحکومت نظامی پاکستان تاخت و تاز مینمایند و آنهم بی شرمانه و دور از ناموس و عفت قلم و هر روز در کابل برای شعبات و موسسات یک لکچر را تهیه و تلاش دارند ، اذهان عامهٔ مردم افغانستان را در مورد حکومت مسلمان پاکستان مغوش ومسموم می نمایند حالانکه قضیه بعکس است به این معنی که باوجودیکه در پاکستان از مدت تقریباً پنج سال به اینطرف حکومت نظامی برقرار بوده اما درین جا نه قیود شب گردی است و نه کشتار

دسته جمعی و تا حدی ممکن آزادی های صنفی موجود بوده است اما در کابل چی ؟ و این را به قضاوت دستگاه حاکمهٔ اربابان کابل میگذاریم.

در پولند که اصلاً حکومت نظامی اعلان نشده است ، باز داشت ها وجود ندارد ؟ فابریکه‌ها و مؤسسات توسط پولیس اشغال نگردیده است ؟ و «وُ چک یا روز ولسکی» که هم شخصیت نظامی نیست و به هر نوع تظاهرات و میتینگ‌ها اجازه داده شده است و دولت حتی خودش همیشه ازطریق رادیو - تلویزیون و اخبار بمردم اعلان مینماید که دولت با کمال حوصله حاضر به تماشای تظاهرات است بعکس بلی !!!؟ باز هم جهانیان میدانند که بالای مردم قهرمان طرفدار اتحادیه همبستگی که میخواهند شانه های شانرا از یوغ استعمار سوسیال امپریالیزم روسیه سبک نمایند چی میگذرد ؟

و آن چکوسلواکیا دو بچک که حالا توسط هفتاد و پنج هزار عسکر بلاک کمونیزم سوق و اداره میشود و تمام وسائل معیشت این هفتاد و پنج هزار عسکر روس و بلاک کمونستی باردوش دولت چکوسلواکیا بوده و زحمت و فشار آن بر گروه های مردم مظلوم و کارگر آن ملت بار میگردد چه حال دارند ؟ باز هم این روس ها و وابسته گان آن داد از صلح و همبستگی می زنند و «ملیتاریزم یا نظامی گرایی» را تقبیح مینماید و همچنان آیا مردم کیوبا، یمن به اصطلاح دیموکراتیک بلغاریا ، هنگری و ملل اسیای میانه و جمهوریت های اسیائی و اروپای روسیه توسط زور سر نیزه اداره نمیشوند ؟

و اگر روسیه روزی بخواهد دست از سر این ملت ها بردارد و رفع زحمت نماید آیا باز هم این ملت‌ها به روسیه وفا دار خواهند بود جواب طبعاً منفی است بلکه این (خیال است و محال است و جنون.) !

و بالاخره در افغانستان : که توسط دستگاه حاکمهٔ باند خلق و پرچم به زور ، اختناق و اقسام ظلم روسیه، روزی اداره میگردد چنان تبلیغات و سیعی را به نفع با داران روسی شروع و براه انداخته اند که خیال میشود دیگر افغانستان چند سال پیش نیست در هر جا شور و شغف کار گرمی بازار ، جوقه - جوقه رفتن شاگردان به مدارس ، دید و وا دید دوستان وغیره موجود است و به اصطلاح خود شان یک افغانستان شگوفان عرض وجود کرده است اما اگر این ببرک خدا ناشناس و خود فروخته بروبل از دربار ارگ کابل بر آید و یک سفر کوتاهی تا پغمان یا چاریکار و جلال آباد ذریعهٔ موتر (نه طیاره) بنماید و بچشم خود که «اصلاً آب ندارد» ببیند که از اثر عملیات و بمباردمان قوای سوسیال امپریالیزم چقدر خرابی رخ داده است و اگر وجدان داشته باشد می فهمد که او و کمونیزم چی ارمغانی به ملت افغانستان آورده‌اند مگر متاسفانه چون این انسان فاقد عقل‌وشعور از معرکه ومعرض این قضاوت سالم بدر نخواهد آمد و به ساحت و حریم مقدس انسانیت ظلم و توهین خواهد بود که‌گفته شود این هم انسان هست.

مجاهد قهرمان را می‌بینید که با مخابرهٔ غنیمت گرفته شده از روسهای بی ناموس با فرماندهٔ جبههٔ مجاهدین اطلاعات را مخابره میکند .

ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا ط بل احیاء عند ربهم یرزقون

د جهاد د سرو سنګر شهیدان



شهید الحاج عبدالرّحیم

صاحبزاده

د افغانستان د روان اسلامی جهاد داتلو او قهرمانو څېرو څخه یو هم الحاج عبدالرحیم صاحبزاده ؤ ذوسوړی ورور د مرحوم میا احمد صاحبزاده زوی د پکتیکا ولایت د کټواز د لوبی ولسوالی دوچ خواړه په کلی کی په ۱۳۲۱ هـ ش کال په یوه دیندارہ او روحانی کورنی کی زیږیدلی دی تر ۱۸ کلنی پوری ی په کور کی د خپل مشر ورور مولوی عبدالرحمن صاحبزاده څخه د دینی علومو زده کړه وکړه او د قرائت په رشته‌کی ی د بریالیتوب سند ترلاسه کړ د عمر په ۲۵ کلنی کی ی د نبـوی احادیثـو دوره د نورالمدارس فاروق په مدرسه کی پای ته ورسوله وروسته له هغه ی د تدریس وظیفه پیل کړه په تدریس برسیره ئې د اسلامی تحریک په ارتباط خلک جهاد او مبارزی ته را بلل ترلسو کالو پوری ی دغه دواړه وظیفی په خورا بریالیتوب او اخلاص سره اجراء کړی او په همدغه موده کی ی د بیت الله شریف حج ادا کړ د

عمر په ۳۰ کلنی کی کله چی په
افغانستان کی دسره استعمار گوداگی
رژیم رامنځ ته شو له خپل کور
څخه مهاجر شو او ډیر ژر یی د
ملحد رژیم پر ضد مبارزه او جهاد
په چټکی سره شروع کړ د یوه کال
په موده کی یی د ۲۰۰۰ په
شاو خوا کی سر تیری مجاهدین
برابر کړل او د تروی په سرحدی
تانه یی برید وکړ کله چی هغه
فتح کړه دوازی خوا ولسوالی
او سرکنډک یی تر برید لاندی
ونیول دغه دواړه ئی هم فتح کړل
له هغه وروسته یی د خوشامند ،
جانیخیلو ، یحیی خیلو ، یوسف
خیلو ، اومنی علاقه داری او د
ډیلی سرحدی تولی یو په بل پسی
آزاد کړل په ۳۷ کلنی عمر کی
د کتواز د لویی ولسوالی عمومی
آمر او د پکتیکا ولایت مرستیال
و ټاکل شو دغه مجاهد ورور اواتل
قوماندان په خپلو ۴۲ بریدولوکی
د ملحد دښمن په سلهاو ټانگونه
او زرهپوشونه او په زرهاو عسکری
افراد او صاحبمنصبان له منځه
یووړل او هغه سیمی ئی د دولت
له واک څخه وایستلی چی تراوسه
لاپکښی مجاهدین په ډیره ارامی او
بیغمی سره خپل هر راز فعالیتونه
کوی خود روان کال د تلی په
میاشت کی د ملحد رژیم یوه لویه
فوځی قوه د ناوی له لاری هغی
سیمی ته راغله او د پزکی په
کلاکی یی ځای ونیو عبدالرحیم
صاحبزاده په هغه قوه باندی د
برید کولو او د سیمی د بیا
آزادولو لپاره نه ستړی کیدونکی
هلی ځلی شروع کړی دوه
میاشتی وروسته ئی دغه قوه تر
برید لاندی ونیوه د جنگ په
لوړی ورځ د شپی په دری نیمو
بجو د اسلام د لاری دغه اتل او
نه ستړی کیدونکی مجاهد ورور
عبدالرحیم صاحبزاده د شهادت
جام وڅښه او خپل عالی هدف
ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید نزیر خان د حاجی
مولا خان زوی چه په ۱۳۱۰
هجری شمسی کال دور دگو
د چک د ولسوالی د بیکسمند
د سرفراز کلی په یوه دینداره
او خدای دوسته کورنی کی زیږیدلی
دی خپله ابتدائی زده کړه ئی په
خصوصی توگه سر ته ورسوله
او په علوم دینی کی ئی هم ډیر
معلومات د رلودل ، همدغه
اسلامی پوهه وه چه نوموړی شهید
مجاهد د پخوانی اسلامی تحریک
سره خپل تعلق غښتلی ساتلی
وه او هم ئی خپل زامن
په اسلامی روحیه وروزل .
په هغه اسلامی انقلاب کی چی د
لوړی ځل لپاره د چک په ولسوالی
کی منځ ته راغی پخپله او د ده
مجاهدو زامنو فعاله برخه درلوده .
خوکله چه سره وحشی وینی
خور استعمار د چک په ولسوالی
حمله یوړه نوموړی مجاهد سره له
خپلو د ریو ځوانو زامنو شهید
سخی مرجان ، خان محمد
ظاهر جان او شهید محمد یوسف
د دروژی د مبارکی میاشتی په
دیار لسم په ۱۳۵۹ کی کله چه سره
وحشی فوځ د بیکسمند
په دره کی قتل عام شروع کړ
د شهادت لوړ مقام ته ور
سید (انا لله و انا الیه راجعون) .

شهید لا لاآغا د عبدالجبار زوی
د خوږ یانیو د طوطو اوسیدونکی
دی ابتدایی زده کړه یی دطوطو
په منځنی ښوونځی کی او نور
تحصیلات یی د حصارک د غلجیو

په لیسه کی تر یوولسم ټولګی پوری وکړه کله چی ملحدانو په افغانستان باندی حمله وکړه نوموړی ورور خپل تحصیل پریښود او په وسله وال جهاد ېی پیل وکړ. بالاخره په ۲۲-۹-۵۹ کال کی د روس یوه قوه خوړ یانو ته راغله او د لکې خیلو په سیمه کی د مجاهدینو اخوا ور باندی سخته حمله وشوه چی د همدی حملی په نتیجه کی نوموړی ورورهم د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله و انا الیه راجعون

شهید ورور حاجی عبدالغفار

د شاه محمد زوی د کندهار ولایت د پنجوایی ولسوالی د تلوکان اوسیدونکی د اسلام د لاری د فدا کاره او مخلصو مجاهدینو څخه ؤ نوموړی د اسلام د لاری د مجاهدینو لپاره له خپل هرڅه تیروه او خپل یوسرای ېی هم دوی ته وقف کړی ؤ دغه مجاهد په ۱۳-۱۱-۱۳۶۰ نیټه د د روسانو د سرو فوځونو له خوا د خپلو ۷ کسو ملګرو سره د ۵۵ کالو په عمر په ډیره څوا نمردانه توګه سره شهید شو .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور ګل محمد د وزیر محمد زوی د کندهار ولایت د میوند ولسوالی د شیر علی کاریز او سیدونکی ؤ د نوموړی کسب د اوبو میراوی وه خو په افغانستان کی د دهری رژیم د رامنځ ته کیدونه وروسته ېی دغه کارپریښود او په وسله وال جهاد ېی پیل وکړ دغه ورور یو د برغیرتی مجاهدؤ په ډیرو جګړوکی ېی برخه اخیستی وه ترڅو په ۱۳۵۹ کال د کندهار په ښارکی د یوی نښتی په ترڅ کی شهید شو .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور ملا عبدالرحمان

د عبدالله جان زوی د کندهار ولایت د پنجوایی ولسوالی د پاشمول کلی او سیدونکیؤ نوموړی خپل زیات عمر د دینی علومو په زده کړه کی تیرکړی او تدریس ېی هم کړی دی د دهری رژیم د منځ ته راتلو په او لو ورځو کی ېی په وسله وال جهاد لاس پوری کړ په پای کی په ۵-۴-۱۳۶۰ نیټه د پاشمول په په سیـــمه کی د روسی تیری کوونکو قواؤ سره په یوه نښته کی د ۴۰ کلو په عمر شهید شو .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید تورن عبدالرحمان



د فطری قانون له مخې ډیرځل داسې پیښیږی چې د طواغیت او فساد په جونګړه کې هلته (چې د وخت نمرود انو د ابراهیمی ملت پرضد پلانونه او نقشې جوړوی) داسې د خدای دلاری پیاوړی سپاهیان روزل کیږی چې دزیښناک ګرو نمرودی طلسم ته د حق په سوزنده یرغلونو اور ورته کوی او تر هغه وخته پورې خپل مبارزې ته دوام ورکوی چې د نمرودی طاقتو نو جرړې له بیخه وباسی اود وحشت په ورانو کنډوالو باندی د انسانیت ښکلې مانې آباد کړی .

قرآن کریم (دغه د بشریت د ټولوانسانی آرمانونو پوره کوونکی) آسمانی کتاب دګر غیرن طواغیت پر ضد قیام داسې توجیه کوی کوم چې د سلیم انسانی فطرت غوښتنه ده ، نوددی د پاره چې انسان په حیوانی چاپیریال کې ځان له لاسه ورنکړی ، په شیطانی تقاضو کې کاملاً محوه اونا بودنشی او د ښکیلاک ګروانسی شیطانانو په ونددرکې ښکیل نشی ، ورته په ګوته کوی چې : (د جهاد اجازه شویدی هغوکسانو ته چه کفار او ملحدین لدوی سره جنګیږی ، ددی لپاره چې پردوی باندی تیری شوی دی او بیشکه چې الله (ج) ددوی په نصرت باندی قادر دی . . . که چیرې ځینې خلک د ځینو نورو خلکو په وسیله دفع شوی نه وای نو وران شوی به وای د راهبانو (صومعې) د نصارا ووکلیساوی ، د یهودانو عبادت ځایونه او د مسلمانانو جوماتونه چه په هغوکې د خدای ډیرذکر کیږی) .

هو ! د افغانستان روانو حالاتو د اثابته کړه چه ډیر مؤمن او با درده متعهدو افسرانو او نوروز ړورو عسکروچې په افغانستان

او نړی کی پرتو کمونستانو اود عصر نمرودانو ورته د امید سترگی درلودی او د ابی پتیلی ووچی دوی خود مونږ په جنگ کی روزل شوی دی نوهیڅکله به زمونږ له فرمان نه سر نه غړوی او زمونږ تیوری به د افغانستان په خلکو باندی د برچی د څوکی په زورو منی . خوځرنگه چه دوی اټکل کړی ؤ ـ هسی نه وه بلکه



حق راغی او باطل نابود شو او د خدای ابدی سنت یوځل بیاد افغانستان د مؤمن ولس د فوځی افسرانو او . . . خلگو په زړونوکی خپل پلوشی وځلولی او ټولو په یواواز د خپل د جنگ فرعون پرضد پاځون وکړ او د پیری پیژندل شوی لوټمارانوته ېی داسی گذارونه ورکړل چه د لمړی ځل د پاره په افغانستان کی ددوی پوزه په خمکه وسولول شو .

شهید وروړ تورن عبدالرحمن هم یوتن له هغو سر ښندونکو فوځی افسرانو څخه ؤ چی دکمونیزم طاغوت ته د تسلیم او مرییتوب غاړه کینښودله او د یومؤمن او واقعی مبارز صاحب منصب په صفت د هغه په مقابل کی ودرید او داسی میړانه ېی په دغه سپځیلی لارکی له ځان نه د یادگار په توگه پریښوده چه ویاړلی راتلونکی اسلامی نسل به پری ویاړی او دده په پله به پل ږدی .

تورن عبدالرحمن د مرحوم حاجی محمود خان زوی د غلجی حصارکو ولسوالی د لنگر خیلو دکلی اوسیدونکی او په ۱۳۲۸ هش کال کی د (سیدان عربی) په کلی کی زیږیدلی دی . ابتدایی تحصیلات ېی د حصارکو په لومړنی ښوونځی کی سر ته ورسول او په ۱۳٤۰ هش کال کی د ابن سینا په لیسه کی شامل او د منځنی دوری د پای ته رسولو نه وروسته په ۱۳٤۲ کال کی په حربی ښوونځی کی شامل شواو په کال ۱۳٤۹ هش کی له حربی پوهنتون نه فارغ شو او ددوهم برید من په صفت عسکری ته استخدام شو . څه موده وروسته د نظامی تعلیماتو د زده کړی د پاره مصر ته ولاړ او د یوفعال کوماندو فوځی افسر په صفت بیرته افغانستان ته را ستون شو ـ څه موده ېی د احتیاطی ضابطانو د ښوونی اور وزنی دنده په غاړه لرله اوبیا د توپ ویشتو په مسلک کی همدغه وظیفه ورته وسپارل شوه . لا ډیروخت نه وو تیرشوی چه بیاهم د نظامی تعلیماتو د زده کړی د پاره ، روسیی ته ولیږل شو ـ دی هلته د کمونستی نظام له وحشت نه ډک چال چلاندر وسیی خلکو سره له نږدی نه ولیدله او ددی منحط نظام پمنه څیره لا ورته لوڅه شوه . کله چه وطن ته راغی له څه مودی وروسته په داؤ د باندی د شطرنج تخته وا وښتله او د هغه پرځای ملحد تره‌کی کیناست په دی وخت کی دی د هیواد جنوبی سیمی ته ولیږل شو ـ له فرصت نه ېی استفاده وکړه او له مجاهدینو سره ېی

ارتباط ونیو - خبره داسی پخه شوی وه چه دی به خپل ترقومندی لاندی ټولی مجاهدینو ته سره له ټولو سهماتو تسلیموی خود قطعی جاسو سانو دا مسئله افشاء کړه - په دی وخت کی تورن عبدالرحمن مجبور شو چی هجرت وکړی - هغه ووچی پیښور ته یی هجرت وکړ او وروسته له شپږو میاشتو د خپلی سیمی جبهی ته ولاړ او د مجاهدینو د جهاد قومنده ور په غاړه شو. په ډیرو خونړیو نښتوکی یی برخه واخیسته او بریالی بیرته تری را ستون شو تر څود روان کال د جدی په شپږمه نیټه په ولسوالی باندی دیوه برید په ترځ کی په داسی حال کی چه ډیر اسلام دښمنه عناصر یی جنهم ته ولیږه د دښمن د مرمی په وسیله د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروز ملا محمد ولی د حاجی عبدالعلی زوی د کندهار ولایت د پنجوایی ولسوالی د تلوکان اوسیدونکی یو پوه او په اسلام او جهاد مین عالم ؤ د دهری رژیم په‌ضدیی په ډیرو جګړوکی ګډون درلود او په پوره اخلاص او فداکاری سره جنګیده د دښمن قواؤ ته‌یی خورازیات تاوانونه اړولی دی په پای کی په ۱۳۶۱-۲-۵ نیټه د زنګی آباد په لویه جګړه‌کی چی دری شپی اوورځی‌یی دوام درلود د ۲۶ کلو په عمر د شهادت مقام

ته ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید وروز زرپاچا د دولت خان زوی د کابل ولایت د پغمان ولسوالی د ارغندی علیا د چوکی په کلی کی په ۱۳۳۶ هـ ش کال په یوه دین دوسته کورنی کی زیږیدلی دی په کوچنیوالی کی د ښو اخلاقو په لړلو سره مشهور

ؤ په ۱۳۵۷ کال یی د دهری رژیم په ضد وسله وال جهاد پیل کړ ده د خپل جهاد په لړکی هره وظیفه به چی ور په غاړه شوه په پوره اخلاص او اسلامی جرئت سره سرته رسوله په پای کی په ۱۳۶۱-۷-۱۷ نیټه دارغندی علیا د چوکی په جبهه کی د تیری کوونکو روسی قواؤ سره د یوی جګړی په ترڅ کی شهید شو.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور ملا محمد
نبی د لعل محمد زوی د کندهار
ولایت د پنجوائی ولسوالی د مرجه
کلی اوسیدونکی د اسلامی جهاد
د نوسیالیو اتلانو څخه ؤ او
په ډیرو جگړوکی یی ونډه اخیستی
ده چی له هغو څخه د ریگستان
نلغام ، زنگی آباد ، اوتلو کان ،
پاشمول او سنگسار جگړی دیادو
نو وړدی بالا خره په
۱۵-۱۰-۱۳۵۹ نیټه د سنگسار
سیمه کی د دهری رژیم د قواؤ
سره یوه نښته کوروسته له هغه چی
ددښمن څلور کسه عسکر یی په
هلاکت و رسول شهید شو .
(اناالله و انا الیه راجعون)

شهید ورور ملا محمد الله د
ملا امان الله زوی د کندهار
ولایت د بندتیمور او سیدونکی ؤ
دغه مجاهد . خپل ټول عمر په
دینی زده کړه کی تیرکړی او په
افغانستان کی د ملحد رژیم د را
منځ ته کیدوسره سم یی وسله
وال جهاد پیل کړ په ډیرو جگړو

کی یی برخه اخیستی ده او په
راکټ و پشتلو کی ئی ښه مهارت
درلود د غه سر تیری مجاهد په
۲۱-۱۲-۱۳۵۹ نیټه د سنگسار
په لویه او خونړی جگړه کی د
۳۰ کلو په عمر شهید شو .
(انا لله وانا الیه راجعون)

عبدالرحمن شهید ولد قربانی علی
مسکونه قریه مامئی ولسوالی
خواجه غار ولایت تخار در
عملیات تاریخی ۲۵-۱۲-۱۳۶۰
بمقام والای شهادت متوصل شد .
(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید ورور سنگین جان د محمود
خان زوی د لوگر ولایت د محمد
آغی په ولسوالی کی په ۱۳۴۱ ش
کال په یوه دیندار ه کورنی کی



زیږیدلی دی نوموړی په کوچینوالی
کی دښوا خلاقو څښتن او د دینی
علومو له زده کړی سره یی زیاته مینه
لرله او تریوی اندازی یی په خپل
کلی کی سرته و رسوله همدارنگه
په ۱۳۴۹ کال دگمران په لومړنی
ښوونځی کی شامل شو په ۱۳۵۴
کال له هغه ښوونځی فارغ او د
ده کلان موسهی په منځنی ښوونځی
کی شامل شو په ۱۳۵۸ کال یی
هغه پای ته ورساوه اوله خپل
فامیل سره مهاجر شولږڅه وخت
وروسته د لغمان ولایت ته ولاړ
او په وسله وال جهادیی پیل وکړ
اوپه ۱۳۶۱ کال یی دلوگر ولایت
د محمد آغی په ولسوالی کی جهاد
پیل کړ نوموړی ورور په ډیره
میړانه او فداکاری سره جهاد ته
